بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيم
د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان
Dr.Said Afghani
د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

دنشرنيټه: 22 دسامبر 2025 ميلادی

# د ارواښاد سميع الدين « افغاني » د ينځم تلين په وياړ!

نن د ارواښاد سميع الدين « افغاني » چې د ادب په ډګر کې يوټکره ليکوال او خوږ ژبي شاعر، ليکوال او وتلای سياسي، عيني څېړنو او فکر خاوند وه ، د مرګ د پنځمه کليزه ده ، او په دی مناسبت د هغه دا لنډ ژوند ليک تاسو درنو لوستونکو او وطنوالو ته وړاندې کوم. له دوعا ګانو د دوی په حق او زمونږ ټولو تېرشوو مشرانو په حق کې ( ان شاء الله تعالی) له ياده مه باسئ.



سميع الدين « افغاني » د مولانا استاد داکتر محمد سعيد « سعيد افغاني » ځوی، د غازي مولوي عبدالمجيد « صافی » لمسی او د مولوی سيد امير صيب کړوسی دی، چې په کال « ۱۳۳۳» هجري شمسي د لغمان ولايت د عمرزيو د سيمې په خيراباد کلي کې ، زيږيدلی دی.

سميع الدين د لغمان ولايت د حيدرخانيو په دهاتي ښوونځی او د مهترالمک ابتدايه ښوونځی کې يې لمړنی زده کړې کړې، او بيا وروسته د پيرروښان د عالي ليسي د دولسم ټولګی څخه فارغ شوې دی.

په کال « ۱۳۵۹ » هجري شمسي د لوړو او مسلکي زده کړو د ترلاسه کولو لپاره بهر ته واستول شو. او په « ۱۳۶۴» هجري شمسي کال په کورنيو چارو وزارت کی په کار پيل کړ، او د« ډګروالی » تررتبې رسيدلی دی.

سميع الدين « افغاني » د پوهې، فرهنګ، شعر او د « پښتو و دری » ادب په ډګر کې يوټکره ليکوال او خوږ ژبي شاعر وه ، چې ځان ته يې شعري سبک او شعري روش درلود او د هغه په شعرونو اوليکنيوکی « هيلې، دردونه، مينه، ارمانونه او ټولنيز او بشري رنګ » ليدل کيږي.

افغاني صيب د سولې، هوساينې او نيکمرغی تږی وه. د وطن د زوريدلي انسان په دردونو اوښکی تويوې، د کرکې ، نفرت او توپير غوښتنې پر ځای د مينې او محبت اواز اوچت کړ . او په ښکاره


ډول ثابت دی چه د ده شعر ، د ده نثر ، د ده لیکنه ، د ده خبری او د ده افکار د وطن، د سولی او د بشریت د خیر او سعادت په هکله دي او پدی لای کی « پښتو او دری » ژبوو ته ښکلا وربښلی ده.


سمیع الدین« افغاني »؛ شپاړس جلده « ۱۶جلده » شعري او نثري کتابونه او رسالی د خپل اوچت قلم له لارې په « پښتو او دري ـ فارسي » ژبو لیکلی چی لس جلده « ۱۰جلده » چاپ او شپږ جلده « ۶ جلده » ناچاپ دي. همداسی دهغه ډیر شمیر څیړنیزې علمي، ټولنیزې، سیاسي مقالي اولیکنې یې د هېواد په مختلف ورځپاڼو ، مجلو ، رسنیو او انټرنیتي ویب پاڼو کې چاپ او خپرې شوې دي.


د افغاني صیب یو شمېر شعرونه د هېواد د وتـلو شاعرانو او لیکوالو په « علمي سیمـینارونو » او مشاعروکې د کلمه، او یـو شمېر نوریې د هېواد د خوږ ژبو هنرمندانو په غږونوکې کمپوز شوی دي، لکه : « زه افغان یم ، پل دې بختور شه ، همت ، دا افغانستان دی ، بنجاره ماما ، یاره ستا په اننګو کې ، میروم لغمان جان ، د وطن په یاد، د برکلي ګودر ... » او ډیر نور چې زمونږ د هېوادوالو د پاملرنې وړ ګرځېدلي دي.

## چاپ شوي آثار:

- د وطن یادونه « د شعرونو لومړۍ ټولګه».
- پردیس خیالونه « د شعرونو دویمه ټولګه».
- زمونږ کلي او باندي « نثر».
- داغلي زړونه « د شعرونو دریمه ټولګه».
- د خاپوړو کلی او باندی .
- شین خالی « ناول ».
- پس از بازګشت « داستان کوتاه».
- نړېدلي جونګړې « د شعرونو څلورمه ټولګه».
- د سمیع الدین « افغاني » چاپ شوي اثار او کتابونه.
- یاره ستا په اننګو کی « شعري کلیات».
























## ناچاپه آثار:

ـ غوره شعرونه او نظمونه « د شعرونو دیوان ».
ـ  پښځمه شعري ټولګه
ـ  د شین خالی ناول دویمه برخه
ـ د دري ژبې اشعارو ټولګه
ـ کمپوز شوي اشعارو ټولګه
ـ زمونږ کلي او بانډې دویمه برخه

الحاج  سمیع الدین « افغاني » په « پښتو ، دري ، روسی او الماني » ژبو تسلط درلود،  واده یې کړی او پینځه  اولاده هریو: « سمیر ، سیر، سکندر، سلما  او ساحل » لري.
سمیع الدین « افغاني » په کال «  ۲۰۱۹» میلادي کې د کعبې شریفې  زیارت ته  مشرف شوو او د حج مراسم یي ادا کړ.
سمیع الدین « افغاني » د اوږدې مودې وریپښې  ناروغی  له  کبله  په « ۱۳۹۹هجري شمسي کال  د مرغومی  پر ۲ نیټه »  مطابق « ۲۲ دیسمبر ۲۰۲۰ میلادي  ـ کال »  د هغه  مهربان  زړه د فعالیته ودرید او  په  روغتون کی  په حق ورسید.   إنا لله وإنا إلیه راجعون

د اروابناد  سمیع الدین « افغاني »  جنازه په سبایی « ۲۳ دیسمبر  ۲۰۲۰ میلادي ـ کال  »  د جرمني هیواد ، د مونشن  ګلاد باخ ښار اسلامي  حضیره کې  خاورو ته وسپارل شو.  جنازې او دعایه کې یې ګن شمیر لیکوالانو،  شاعرانو او دوستانو ګډون کړای وه.




اې الله سبحانه او تعالی!

ستا مقدس درګاه ته مې لاسونه وچت کړي.
ته په خپل مهرباني او رحمت؛ اروابناد  سمیع الدین « افغاني »  وبخښه ، ارواېې  ښاده او جنت فردوس یې په نصیب کړي.

امین یا رب العالمین

برهان الدین « سعیدی »

د حق د لارې د کلتوري مرکز سکرتریت

بازګشت به صفحه اصلی  –  www.said-afghani.org